نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۲/۰۷

# د هلمند واوره، د مسلمان او عيسوي ګروهه - څيړنه

نږدې شپاړلس کلونه مخکي په هلمند کي پرخه رنګ ډيره لږ واوره شوي وه، دا ډول پوره ديرش کلونه مخکي نسبتاً ښه واوره په هلمند کي شوي وه، اوسني واوره چي د روان کال ۱۳۹۲ د سلواغي پر ۱۴ مه او ۱۵ مه نيټه دوه ورځي پرله پسي وشوه، په تيرو څو لسيزو کي يې سارى نه وو ليدل شوی.
ديرش کاله مخکي چي کله د روسانو او دهغوی له پلويانو سره د مجاهدينو د جګړې د زور او قوت وخت وو، په هغه وخت کي هم روسانو ډيري زياتي بمباري کولي او ډول ډول راکټونه او وسلې يې کارولي، درانه بمونه او درني وسلې يې پر افغانانو استعمال کړي، هوا ډيره ککړه وه.
الله ج خپل الهي رحمت پر بې وزله افغانانو وکی، او پر هلمند يې واوره وپاشله، د هلمند د ځمکو مخونه پر واورو سپين وو، هوا او فضاء ګرده واورو نيولي وه.
که غازونه په کوم ځانګړي ځای کي ښخ وي، او يا پټ شوي وي، خو سرې به اوبه پري ورخوښي کړي، دا چي خطرناک غازونه په هوا کي وي، د انسان له وسه پورته خبره ده چي ګرده هوا پر اوبو لنده کړي، او ګرده فضاء نمناکه کړي تر څو د غازونو تأثيرات له منځه يوسي، دا يو الله ج کولای شي.
که څه هم هلمند د واوري اوريدو هوا نه لري، ګرمه هوا لري، ګرمسير ولايت دی، خو الله ج د مظلومو افغانان د درملني او په هوا کي د غازونو له بدو تاثيراتو څخه د خلاصون له پاره پوره ۳۰ کاله مخکي د هلمند هوا د واوري په وسيله پاکه کړه.
په اوس وخت کي د هلمند واوره هلمنديانو ته يو الهي درمل وو چي لوی الله ج دغه قيمتي درمل پرې ولورل، د هلمند هوا او فضاء د امريکا، ناټو او آيساف د وسلو د کاروني له امله ډيره زياته په ډول ډول غازونو ککړه شوې وه، په غرب کي خو داسي ويل کيږي چي هلمند د امريکايي او برتانوي وسلو د ازمايښت زيرمتون وو.
دهلمند د هوا د ککړوالي پاکوالی د انسان له وس څخه اوچته خبره وه، الله ج رحم وکړی، پر هلمنديانو يې د هغوی د قربانيو له امله خپله لويه لورينه وکړه او د هلمند ککړه هوا او فضاء يې ګرده په سپينو واورو ومينځله.
د هلمند د هوا د ککړوالي په اړه کورنيو، بهرنيو او نړيوالو رسنيو هم راپورونه ورکړل، زه هم د يو افغان په توګه سخت ځوريدلم چي د هلمندي کورنيو سخت ژوند او د هوا د ککړوالي له امله د مرضونو څخه شکايت به مي کله اوريدی، خو هيڅ نه پوهيدم چي د دغه لوی ناورين د مخنيوي له پاره به هلمندي ځوانان او مسلکي کسان کوم کار کوي، ولي دامي عقيده وه چي الله ج به په خپل فضل او کرم سره دا غازونه بې تاثيره کړي، الحمد لله چي همدغسي وهم شول، زه پوره متيقين يم چي د واوري اوريدل به د هلمند ککړه هوا لږ تر لږه پاکه کړي، او د امريکايي او برتانوي وسلو په هوا کي خوشي شوي غازونه به بې تاثيره کړي.
اوبه ژوند دی، الله ج همدغه کلمات په خپل مقدس کتاب قران کريم کي فرمايلي دي، په اوبو کي حيات دی، اوبه يې د نړۍ د وچې دري برابره زياتي پيداکړي دی، او کله چي اوبه ختمي شي نو د دنيا ژوند هم ختميږي.
په زرګونو کلونه مخکي د ځمکي پر مخ فساد زيات شو، بيا هم الله ج د ځمکي له مخه فساد د اوبو په واسطه ليري کړی، د نوح عليه السلام په وخت کي دومره باران وشو، چي د ځمکي پر مخ يې ټول هغه انسانان چي د الله ج له حکمونو څخه يې سرغړونه کوله د اوبو د ډيروالي له امله غرق او مړه شول، حتى چي د نوح عليه السلام زوی هم د الله ج د حکمونو څخه د سرغړوني له امله غرق شو، يواځي نوح عليه السلام او په شمار څو تنه، دا ډول د ځينو مرغانو ځيني ډولونه چي په کښتي کي وو پاتي شول.
زه نه شم کولای چي د هلمند د واورو تخنيکي اړخ په سم ډول وڅيړم، تر خپله وسه هغه څه ليکم چي زما په ذهن کي راځي، اميد دی چي ځيني څيړونکي پرې څيړنه وکړي، چي ولي په دغسي يو وخت کي د هلمند په ګرمه هوا لرونکي ولايت کي دومره پريمانه واوره وريږي، او له يوې مخې د ولايت نږدې په ګردو ولسواليو کي واوره کيږي.
داهغه څه دي چي د انسان له عقل څخه پورته خبرې دي، او خارق العاده کارونه يې ګڼلای شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

عیسویان هم د واوري په اړه ځانګړي ګروه لري، که د عیسویانو د کرسمیس په وخت کي واوره ونه شي، او له کرسمیس څخه وروسته ونه شي، دوی عقیده لري چي د دوی د کرسمیس خیراتونه او د دوی خپل عبادتونه نه دي قبول شوي.
سږ کال د برتانیي خلک ډیر فکرجن دي چي د کرسمیس وروسته په برتانیه کي واوره نه ده شوي، اوس هم دوی تمه لري چي په فبروري او مارچ کي به واوره ؤشي، اوسمهال ډیر په تشویش کي ښکاري، ځکه چي واوره نه ده شوي.
کله چي به د روسانو له خوا پر کورونو او مجاهدینو د الوتکو پواسطه بمبارد کیدی، او یا به قوي میزایل او راکټونه پر کورونو واریدل، د باروتو د بد بوی او د ګنګستیا څخه د خلاصون په خاطر به خلکو خپل څادرونه او یا نور ټوکران پر اوبو لانده کول او بیا به یې خپلو پوزو او خولو ته نیول، ترڅو د باروتو زهري مواد د پوزي او خولي د لاري د انسان د سر نورو برخو ته سرایت ونه کړي، په ځانګړي ډول عصاب زیانمن نه کړي.
کله چي لاریون کوونکي لاریون ته ځي د ځان سره په کوچنیو بوتلانو کي اوبه اخلي او دا ډول د ټوکر ټوټي پر اوبو لندوي او بیا چي کله پولیس پرې د ګاز شندلو مرمۍ اوروي، نو د ګازونو څخه د خوندیتوب له پاره لاریون کوونکي پر اوبو لانده ټوکران کاروي، لانده ټوکران پر خپلو خولو او پوزو ږدي، ترڅو هغه ناوړه غازونه تنفس نه شي او پري تاثیر ونه کړي.
تاسي به لیدلي وي چي کله د برق لاینو ته اوبه ورسیږي شارټي کوي، اوبه پرې تاثیر لري، د برق چارجونه خنثی کوي، کله کي د برق لاین په اوبو کي ولویږي ترهغه شارټي کوي تر څو برق په جنکشن کي قطع شي او یا د برق لاین قطع شي، دا ټول د اوبو خاصیت دی.
ډیری غازونه چي د اوبو سره مخلوط شي خپل اصلي ماهیت د لاسه ورکوي، او غازي (ګیسي) تاثیرات یې له منځه ځي.
کله چي په کورونو او استوګن ځایونو کي د اور او یا ګیس غاز کوم کسان پر سر ونیسي (کسان ورڅخه متاثره شي) سمدستي خپله هڅه کوي او یا یې نور کسان ازادي هوا ته وړي، اوبه یې پر سر او مخ ورته شندي، دا ډول که دباروتو له امله کوم کس متاثره کیږي، ګنګس کیږي سمدستي یې خلک پر سر او مخ اوبه اچوي تر څو د غاز تاثیرات له منځه یوړل شي.
زه نږدې یوه میاشت مخکي هلمند ته تللی وم، خلکو یې د هوا له ککړتیا څخه سر ټکاوو، ډیری داسي پیښې او رنځونه لیدل شوي وي چي په هوا کي د ځینو خاصو غازونو له امله وو.
د امریکا له یرغل وروسته په هلمند ولایت کي په ځانګړي ډول، بهرنیو پوځیانو ډول ډول وسلي وکارولي، او دا ډول ویل کیږي چي ګ وذ دی ځیني کیمیاوي او بیولوژیکي وسلي هم کارول شوي وي.
په روان ژمي کي ډیری کسان په کورونو او استوګن ځایونو کي د ګاز کارولو له امله مړه شول، چي پخوا دا ډول پیښې ډیری کمې وي، دا ډول د لرګیو او زغالو د اور له امله هم خلکو ته داسي رنځونه پیداشوي چي پخوا په هلمند کي نه وو لیدل شوي.
زما یو نږدې ملګری چي په اطاق کي یې د لرګیو اور ورته بل کړی وو، انګار ته یې کیناستلی وو، د اور د انګار له امله ګاز نیولی وو (ګنګس شوی وو)، هغه وایي چي زه درې ورځي هیڅ پر ځان پوه نه شوم چي زه د اور ګیس متاثره کړی یم، درېیمه ورځ په کور کي غورځار شوی وو، بیایي د بست روغتون ته رسولي وو، چي فشار یې ۲۰ ته ټیټ شوي وو، دومره ټیټ فشار د مرګ حالت دی، په ډیر تکلیف د اکسیجن په ورکولو سره یې ساعتونه وروسته فشار بیرته لوړ شوی وو، خو بیا هم عادي حالت ته نه وو راغلی، په روغتون کي شپه او ورځ بستر وو، چي کله له روغتون څخه رخصت شو، څو ورځي وروسته یې هم حالت سم نه وو.
ځینو ډاکټرانو ویل چي دا ټول د هوا د ککړتیا تاثیرات دی، د هلمند هوا په ډول ډول ګازونو لړل شوي، ځکه خو عادي ګاز او د اور د انګار غازونه پر خلکو بد تاثیر کوي، دغه غازونه په هوا کي له نورو زهري غازونو سره یوځای کیږي او بیا د انسان پر مغزو او تنفسي جهاز بد تاثیرلري.
د واوري یو بل ښه خاصیت دادی چي په بطي ډول سره د ځمکي تل ته ځان رسوي، او هغه زهرجن مواد او ککړتیاوي چي تر ځمکي لاندي وي هغه هم له منځه وړي، باران څو شیبي وي، او د ځمکي تل ته په اسانه ځان نه رسوي، خو واوره بیا له دي سره چي د ځمکي تل ته ځان رسوي، په ځمکه کي د اوبو چینې هم ډکوي، او د وچکالي د له منځه وړلو باعث هم ګرځي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

د اوبو ډېر خاصيتونه دی چې يو يې داهم دی، رسول صلی الله عليه وسلم فرمايي چې کله تاسي ته غوسه درشي، نو په اوبو ولامبئ تر څو مو غوسه سړه او قابو شي، اصل کې د غوسي په وخت کې د مغزو په شريانو کې د وينې جريان زياتيږي، وينه د جريان د تيزوالي له امله ګرموالي پيداکوي، او دغه د وينې ګرموالي په شريانو کې پر عصابو تاثير کوي، سړی عصباني کيږي، او عصباني پريکړه کوي، له همدې امله ده چې رسول ص فرمايي کله غوسه درشي په سړو اوبو ولامبئ تر څو بيرته عادي حالت ته راشئ او فکر او مغز مو سم کار وکړي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ